
قرآني بيان

# دتاوان سودا



د مَدَني مركزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

11-JULY-2025

## د جُمعَةُ المبارک

FOR ISLAMIC BROTHERS

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 11 جولائي، کال 2025ء (بمطابق: 15 مُحَرّم الحَرام، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

په نوم

# د تاوان سودا

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د هدايت په بدله ګمراهي مهٔ اخلئ!
- په يوه جُمله باندې يې دوه حجونه ضائع کړل
- آيا د قُربانۍ په ځائے صرف صدقه کيدے شي؟
- د اخرت غوښتونکي جوړ شئ!

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback*** :+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

صحابئ رسول حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: يو ځل سحر د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوراني مخ باندې د خوشحالۍ نخښې وې، صحابۀ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان چې ترينه د دې د سبب پوښتنه وکړه نو اوئې فرمائيل: الله پاک پيغام راليږلے دےچې: اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو کوم اُمتي چې په تاسو باندې يو ځل دُرُود ولولي، زۀ به د هغۀ د پاره 10 نيکۍ ليکم، د هغۀ 10 ګناهونه به ورانووم، 10 درجې به ورله اوچتووم او هم دومره رحمت به پرې ليږم۔ (1)

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے (2)

وضاحت: هغه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم ته چې د بے وسو ملاتړ وئيلے شي، کوم چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، په هغوئي باندې دې دُرود او سلام وي۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... مُسۡنَدِ اَحمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔
2 ... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

أُولٰٓىٕكَ الَّذِیْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى۪ فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَ مَا كَانُوْا مُهْتَدِیْنَ(۱۶)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږه د وړومبی سیپارې، د سورۀ بَقَرَه، د آیت: 16 د اوریدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آیت مبارک کښې د منافقانو یوه بے وقوفي ذِکر کړے شوې ده- اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| أُولٰٓىٕكَ الَّذِیْنَ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هُم دا هغه خلق دي- |
| اِشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى۪ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: چا چې د هدايت پۀ بدله کښې گمراهي واخستله- |

یعنې منافقانو کومو چې به پۀ زړۀ کښې کُفر پټ ساتلو او پۀ خُله باندې به يې کلمه ووئیله

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړو، د نبوت اِعلان يې وکړو، معجزې يې وښودلې، د قرآن کریم آیتونه يې بیان کړل، حق بالکل واضحه شو، بیا د منافقانو سره دواړه لارې وې، پۀ هدايت حاصلولو د جنَّت حقدار هم جوړیدے شو او د باطِل پۀ لاره باندې پۀ تللو د دوزخ حقدار هم جوړیدے شو- ❀ دې بد بختو به کلمه هم وئیله ❀ دوئي اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ (مونږه پۀ الله باندې او پۀ اخرت باندې ایمان راوړو) هم ووئیل ❀ مسجدِ نبوي شریف ته به هم حاضریدل ❀ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مخ مبارک زيارت به يې هم کولو ❀ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ژوند دَرس هم ورکولو، دوئي به هغه دَرس هم اوریدو، دا ټول هغه کارونه وو کوم چې به صحابۀ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کول نو د هدايت ستوري جوړ شول، منافقانو هم دا کارونه وکړل، که غوښتلے يې نو دوئي هم د جنَّت حقداران جوړیدے شو خو

اِشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى۪

دوئي هدايت پرېښودو، ګمراهي يــې اختيار کړه، اِسلام يــې پرېښودو، د ګُفر لاره يــې اِختيار کړه، جنَّت يــې پرېښودو، د دوزخ لاره يــې اِختيار کړه، په خُله باندې يــې خو کلمه ووئيله خو په زړهٔ کښې يــې ګُفر پټ وساتو۔

| | |
|---|---|
| فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو د دوئي تجارت څهٔ ګټه ونکړه۔ |

يعنې دې بد بختو هدايت پرېښودو او کومه ګمراهي چې يــې اِختيار کړه، د دوئي دې جوړ جاړې [يعنې سودا بازئ]، دې تجارت دوئي ته هيڅ فائده اونه رسوله۔

| | |
|---|---|
| وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ﴿۱۶﴾ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او دې خلقو هډو سمه لار پيژندله نهٔ۔ |

يعنې حقيقت خو دا دے چې دا منافقان بے وقوفه دي، دوئي هډو په تجارت کولو نهٔ پوهيږي۔ ❀ په دُنيا کښې تجارت څنګه کول دي؟ ❀ د يو نه 10، د لسو نه 100 او د سلو نه 1000 څنګه جوړولے کيږي؟ ❀ دُکان څنګه کيږي؟ ❀ کاروبار څنګه ښهٔ کيږي، په دې اګر که پوهيدل خو د اخرت تجارت څنګه کول دي؟ د هغې دوئي له هډو طريقه نهٔ ورتلله، دوئي د تاوان سودا وکړه، جنَّت ته تلے شو خو دوئي دوزخ اِختيار کړو۔

د يو ماهره سوداګر د ټولو نه وړومبے او بنيادي کوشش دا وي چې ما څومره مال لګولے دے د هغې سره فائده هم حاصله شي! خو دا منافقان داسې بد بخته دي چې دوئي د اخرت تجارت وکړو خو فائده به يــې څهٔ حاصلوله چې د خپل اصلي مال نه يــې هم لاس وينځل، کلمه يــې هم ووئيله، بيا هم د جنَّت حقداران نهٔ شول، نـمونځونه يــې هم وکړه، جهاد يــې هم وکړو، روژې يــې هم ونيولې، بيا هم د جنَّت حقداران نهٔ شول، ولې؟ ځکه چې

اِشۡتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالۡهُدٰى ۪

دوئي د خپل زړۀ د دُنيا د پاره د هدايت پۀ ځائے ګمراهي اِختيار کړه-

## د تاوان سودا مۀ کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې دا د منافقانو عيب دے، د دوئي بے وقوفي ده چې دوئي اګر که د دُنيا پۀ تجارت پوهيږي خو د اخرت پۀ تجارت باندې نۀ پوهيږي، د تاوان سودا کوي- مونږه د الله پاک پۀ فضل باندې مسلمانان يو، منافقان نۀ يو، ځکه مونږ له پکار دي چې د منافقانو پۀ شان د بے وقوفۍ نه ځان بچ کړو ❀ مونږه د دُکان پۀ کولو پوهيږو ❀ پۀ کاروبار کولو پوهيږو ❀ پۀ پيسو ګټلو پوهيږو ❀ پۀ کور چلولو پوهيږو ❀ د يوې نه 10، د لسو نه 100 او د سلو نه 1000 مونږه جوړوو، دا پۀ خپل ځائے باندې ښه خبره ده، البته مونږ له د اخرت تجارت هم کول پکار دي، لکه څنګه چې مونږه پۀ دُکان کولو، کاروبار کولو کښې ماهران يو، د دُنيا د ګټلو پۀ هره طريقه باندې پوهيږو، دغه شان د جنَّت ګټلو طريقې هم مونږ له راتلل پکار دي-

که د اخرت تجارت مونږ له نۀ راځي نو هسې نۀ چې مونږه د تاوان سودا ونکړو، بعضې وخت که د دُنيا پۀ تجارت کښې نقصان هم وشي نو تر خومره وخته پورې به وي، پۀ شپږو مياشتو کښې، پۀ کال دوه کاله کښې به نقصان پوره شي، فرض کړئ که کاروبار مو وکړو او د کروړونو روپو نقصان وشو، مال ډوب شو، که بيا د دې دغه تاوان پوره نکړے شي نو هم دُنيا فاني ده، نن ژوندي يو، سبا کيدے شي چې پۀ قبر کښې يو- که مونږه د اخرت پۀ تجارت کولو نۀ پوهيږو، د اخرت پۀ معامله کښې که مونږه د تاوان سودا وکړه نو پۀ فاني دُنيا کښې نۀ بلکې پۀ ابدي (يعني پۀ هميشه پاتې کيدونکې) ژوند کښې به نقصان وشي، ځکه د اخرت پۀ معامله کښې چرې هم د تاوان سودا مۀ کوئ!

## (1): د هدایت پهٔ بدله ګمراهي مهٔ اختیاروئ!

د الله کریم ډیر لوئي فضل دے چې مونږه د مسلمانانو پهٔ کور کښې پیدا شو، د اَربونو پهٔ شمیره کښې خلق پهٔ دُنیا کښې موجود دي، الله کریم زمونږ د پاره د مسلماني کورنئ انتخاب وفرمائیلو، مونږه د عاشقانِ رسول پهٔ کور کښې سترګې وغړولې او دُنیا ته چې راغلو نو د اذان اواز مو واوریدلو۔

دا الله پاک مونږ ته سعادت راعطا کړےچې مونږه پهٔ هدایت باندې یو، اوس د دې هدایت پهٔ خرخولو چرې هم ګمراهي مهٔ اخلئ ، ګني نو دا به د اخرت پهٔ تجارت کښې ډیره د تاوان سودا وي، مونږه پهٔ هدایت باندې یو، اِیمان مو پهٔ سینه کښې موجود دے، دا اِیمان چرې هم مهٔ خرخوئ۔ ❀ د دُنیا مال، د دُنیا دولت ❀ د دُنیا شهرت ❀ د دُنیا نوم، عهده، منصب، دا هر څهٔ فاني دي، خُدائے دې نهٔ کړي که د پیسو پهٔ لالچ کښې، د منصب پهٔ لالچ کښې، د یو ملک د ویزې حاصلولو پهٔ لالچ کښې که مو چرې د ایمان سودا وکړه نو ډیر غټ نقصان به وشي۔

## مجازي عشق کُفر ته ورسولو

د خپل وخت د کامِل ولي، حضرت حَسَنِ بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د زماني یوه ډیره عبرتناکه او د سبق نه ډکه واقعه ده، یو ځل اِمامِ بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ تشریف فرما وو نو هغوئي ولیدل چې بعضې خلق یو مړے په راښکلو وړي ، حضرت حَسَن بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ چې دا ولیدل نو بے هوشه شو او زمکې له یې تشریف یوړو، چې کله پهٔ هوش کښې راغلو نو د هغوئي نه د بے هوشئ د سبب پوښتنه وکړے شوه، هغوئي وفرمائیل: دا مړ شوے ګس یو وخت کښې د اعلیٰ درجې عابِد او زاهِد وو، یوه ورځ دا د خپل کور نه د نـمونځ پهٔ نیت باندې ووتو نو پهٔ لاره کښې یـې یوه غیر مسلمه جینئ ولیدله، نظر یـې دوکه شو، زړهٔ یـې پرې وبائللو او دا ګس د مجازي عشق پهٔ جال کښې راګیر شو۔ پهٔ زړهٔ کښې به یـې ګنده ګنده

خيالونه راتلل، د هغهٔ وخت بربادیدو، اخر یوه ورځ هغهٔ هُغه جینۍ ته د نکاح پیغام ولیږو، پهٔ دې باندې هُغې جینۍ ووئیل: تهٔ مسلمان یې او زهٔ غیر مسلمه یم، تر څو پورې چې تا خپل دِين نهٔ وي پرېښودے او زما مذهب دې نهٔ وي اِختيار کړے! تر هُغه وخته پورې به زهٔ ستا سره نکاح نهٔ کووم۔

آه! افسوس! د هغهٔ پهٔ مزغو کښې مجازي عشق پروت وو، پهٔ هُغه بد بخته باندې شهوت غالِب شو، هغهٔ د جینۍ خبره ومنله او دِين اِسلام یې پرېښودو او د هُغې جینۍ والا باطِل دِين یې اِختيار کړو۔ بیا چې کله دا د جینۍ خوا له لاړو نو هغې ووئیل: اے انسانه! پهٔ تا کښې هیڅ خیر نشته، چا چې د خپل دِين سره وفا ونکړے شوه نو هغهٔ به زما سره وفا څنګه کوي۔ پهٔ دې وئیلو هغې د واده نه اِنکار وکړو۔

نه خُدا ہی ملا نہ وِصَالِ صنم | نہ اِدھر کے رہے، نہ اُدھر کے رہے

د اِيمان نه هم خلاص شو، د چا پهٔ عشق کښې چې راګیر وو، هغهٔ ورته هم میلاؤ نهٔ شوه۔ اخر هم د کُفر پهٔ حالت کښې مړ شو۔ [(1)]

اَللّٰہُ اَکۡبَرۡ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ چې څومره د تاوان سودا یې وکړه؟ خپل اِيمان یې خرڅ کړو او ګمراهي یې اِختيار کړه، د یوې جینۍ پهٔ عشق کښې راګیر شو او د اِيمان پهٔ سودا کولو د اخرت پهٔ تجارت کښې پهٔ څومره غټ نقصان کښې اخته شو---!!

## د کُفر نه نفرت کول ضروري دي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! مونږه مسلمانان یو، یقیناً چې دا د الله پاک ډېر لوئي نعمت دے، زمونږه کلمه وئیل، مسلمانیدل به اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيمِ! د دوزخ نه د بچ کیدو او جنّت ته د تللو ذریعه جوړیږي خو یاد ساتئ چې د دوزخ نه د بچ کیدو او د جنّت د حقدار جوړیدو د پاره صرف مسلمانیدل کافي نهٔ دي بلکې د سلامت اِيمان سره د دُنیا نه

1...بحر الدموع، الفصل السادس عشر ذہاب اللذة و بقاء العقاب، صفحه:109106 ملتقطًا۔

تلل هم ضروري دي- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل ایمان فِکر وکړو، اللّٰه پاک مونږ ته د ایمان دولت راعطا کړے دے، د دې قدر هم وکړو، د دې شُکر هم ادا کړو او ورسره ورسره د کُفر نه نفرت هم وکړو- پۀ حدیثِ پاک کښې دي: پۀ چا کښې چې درې خبرې وي، هغۀ به د اِیمان حلاوت (یعنې خوږ والے) بیامومي (پۀ دې دریو کښې یــې یوه خبره دا اِرشاد کړه:) هغۀ د اِیمان نه پس د کُفر طرف ته کرځیدل داسې نۀ خوښوي، لکه څنګه چې وور ته غورځیدل نۀ خوښوي- (1)

معلومه شوه چې د اِیمان والا پاتې کیدو، د سلامت اِیمان سره قبر ته د کوزیدو او پۀ دې ذریعه د جنَّت د حقدار جوړیدو د پاره ضروري دي چې مونږه د کُفر نه هر وخت نفرت وکړو-

## د اِیمان د سلامتیا فِکر وکړئ!

آه! افسوس چې نن سبا د اِیمان د سلامتیا فِکر د ډیرو کمو خلقو سره وي ❁ عام طور خلق پۀ خپل نفس باندې یقین کوي ❁ د بد مذهبو او د خرابو خلقو پۀ صحبت کښې کیناستل ❁ پۀ ګناهونو کښې مصروفه اوسیدل ❁ مونږه څۀ زده کوو، د چا نه یــې زده کوو، وغیره بالکل فِکر نۀ کول ❁ د عِلمِ دِین نه لرې تښتیدل ❁ د غیر مسلمو نقل کول ❁ د هغوئي لټریچر ډاډه لوستل ❁ د غیر مستندو خلقو او د غیر مستندو طریقو (مثلاً د سوشل میډیا، انټرنیټ، یوټیوب، فیس بُک وغیره) ذریعو نه د دِین د زده کولو کوشش کول وغیره د اِیمان نه د لاس وینځلو اسباب دي خو افسوس چې نن سبا زیاتره خلق پۀ دې کارونو کښې اخته پۀ نظر راځي-

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اللّٰه پاک مونږ ته د اِیمان دولت راعطا کړے دے نو مونږ له د دې قدر هم کول پکار دي، دې د پاره مونږ له پکار دي چې د اللّٰه

---

1...بخاری، کتاب بدء الایمان، باب حلاوۃ الایمان، صفحه:74، حدیث:16 ملتقطًا-

پاک د پټ تدبير نه هر وخت ويرېږو او هر ساعت د ايمان د سلامتيا فِکر وکړو-

## د پټ تدبير نه نۀ ويريدل سخت نقصان ورکوونکے عمل دے

پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

فَلَا یَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ۠﴿۹۹﴾ (پاره:9، سورۂ الاعراف:99)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: نو د الله د پټ تدبير نه صرف تباه کيدونکي خلق بے ويرې وي-

علمائے کرام فرمائي: د الله پاک د پټ تدبير نۀ بالکل نۀ ويريدل کبيره گناه ده- (1)

## د حضرت سفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د الله پاک نه ويره

حضرت سُفيانِ ثَوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډير د اوچتې مرتبے عالِمِ دِين، ډير د اوچتې پايې مُحَدِّث او کامِل ولي دے، د حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ باره کښې منقول دي چې د هغوئي ملا پۀ ځوانئ کښې راټيټه شوې وه- خلقو ډير ځل د دې د وجهې نه د ځان د خبرولو کوشش وکړو خو حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هيڅ جواب ورنکړو- يو ځل د هغوئي يو شاګرد بيا بيا د دې وجه وپوښتله نو اوئې فرمائيل: زما يو اُستاذ وو، هغوئي ډير پۀ لوئي علماؤ کښې شميرلے کيدلو، ما د هغوئي نه ډير علمونه زده کړي وو، چې کله د هغوئي د وفات کيدو وخت رانزدې شو نو ما ته يې ووئيل: اے سُفيانه! آيا تۀ خبر يې چې زما سره څۀ معامله وشوه؟ ما تر 50 کالو پورې مخلوق ته د الله پاک د اطاعت کولو او د گناهونو نه د بچ کيدو تلقين کولو خو افسوس! نن چې زۀ وفات کيږم نو الله پاک زۀ د خپلې بارگاه نه پۀ دې فرمائيلو راويستم چې تۀ زما بارگاه ته د راتللو اهليت نۀ لرې-

د خپل اُستاذ دا خبره چې مې واوريدله نو د عِبرت پۀ وجه زما ملا ماته شوه، د کومې د ماتيدو اواز چې هلته کښې موجودو خلقو هم واوريدو- ما د الله پاک د ويرې نه اوښکې

---

1...جهنم ميں لے جانے والے اعمال، جلد:1، صفحه:291-

توئيولي او سخت بيمار شوم- (1)

فکرِ مَعَاش بَدبَلا، ہَولِ مَعَاد جاں گُزا | لاکھوں بلا میں پھنسنے کو رُوح بدن میں آئی کیوں؟

وضاحت: يعني د ژوند اسباب مثلاً د خوراک څښاک وغيره فِکرا د قبر تنګي او د قيامت د وحشتونو ويره! په داسې لکونو بلاګانو کښې د انبنتو د پاره رُوح بدن ته ولې راغلے وو---؟

الله پاک دې مونږ ته د اِيمان د حفاظت کولو، د اِيمان د سلامتيا د پاره د کوشش کولو او د کُفر طرف ته د تللو نه هميشه د ويريدو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

ایماں پہ رَبِّ رحمت دے دے تُو استقامت | دیتا ہوں واسطہ میں تجھ کو ترے نبی کا (2)

## (2): د ريا نه ځان ساتئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دغه شان ريا هم د اخرت په تجارت کښې ډيره د تاوان سودا ده- ❀ مونږه نـمونځ وکړو، د دې نـمونځ په وجه مونږ د جنَّت حقدار جوړيدے شو ❀ مونږه روژه ونيوله، د دې روژې په ذريعه مونږه د جنَّت حقدار جوړيدے شو ❀ حج مو ادا کړو، د دې په ذريعه مونږه د جنَّت حقدار جوړيدے شو ❀ تهجد مو وکړه ❀ د اشراق څاښت نفلونه مو ادا کړه ❀ د قرآنِ کريم تلاوت مو وکړو ❀ ذِکرُ الله مو وکړو ❀ دُرُودِ پاک مو ولوستو ❀ صدقه مو ورکړه، خيرات مو وکړو ❀ لوئي لوئي نيک اعمال مو وکړه، د دې نيک اعمالو په برکت مونږه د جنَّت حقدار جوړيدے شو خو که چاته مو د ښودلو د پاره وکړه ❀ سر په سجده يو، په خُله باندې وايو: سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی خو په زړهٔ کښې مو نيت دے چې خلق ما ته وګوري او لوئي عبادت ګزار راته ووائي ❀ غريب له

---

1...خوفِ خُدا، صفحه:80۔

2...وسائِلِ بخشش، صفحه:178۔

راشن ورکوو، د چندې پۀ باکس کښې چنده اچوو خو پۀ زړۀ کښې نيت دے چې خلق راته سخي ووائي ❁ پۀ ډير ښکلي اواز کښې تلاوت کوو خو پۀ زړۀ کښې مو دا نيت دے چې خلق ما ته د قرآنِ پاک قاري ووائي ❁ نيک اعمال مو وکړه خو ريا مو وکړه، د کومې پۀ سبب چې د جنَّت نۀ بلکې د دوزخ حقدار جوړ شو- دا ډيره د تاوان سودا ده-

## پۀ يوه جُمله باندې يــې 2 حجونه ضائع کړل!

يو ځل حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه د يو کَس دعوت له تشريف يوړلو، کوربه خادم ته ووئيل: پۀ هٔغه لوښو کښې طعام راوړه کوم چې ما پۀ دويم ځل د حج د سفر نه راوړي دي- حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه وفرمائيل: اے مسکينه! تا پۀ يوه جمله کښې خپل 2 حجونه ضائع کړل-[1]

نفسِ بدکار نے دِل پر یہ قیامت توڑی | عَمَلِ نیک کیا بھی تو چھپانے نہ دیا[2]

## رِيا کوونکے د الله پاک سره بد ديانتي کولو والا دے

پۀ روايت کښې دي: يو کَس پۀ بارګاهِ رسالت کښې عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قيامت پۀ ورځ به کوم يو څيز نجات ورکوي؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د الله پاک سره بد ديانتي نۀ کول- هٔغه کَس بيا عرض وکړو: بنده د الله پاک سره بد ديانتي څنګه کولے شي؟ اوئې فرمائيل: داسې چې تۀ د الله پاک او د هغۀ د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانبرداری والا کار د غَيرُ الله د راضي کولو د پاره وکړې- پس د ريا نۀ ځان ساته ځکه چې ريا شرکِ (اَصغر) دے او د قيامت پۀ ورځ به ريا کوونکے پۀ څلورو نومونو رابللے شي: (1): اے کافِره! (2): اے بد کاره! (3): اے دوکه

---

1...فضائلِ دُعا، صفحه:281۔

2...سامانِ بخشش، صفحه:72۔

بازه! **(4)**: اے نقصان پورته کوونکیه! ستا عمل خراب شو، ستا اَجر برباد شو، نن ستا د پاره هیڅ حصه نشته، اے د دوکې ورکولو کوشش کوونکیه! خپل ثواب د هغهٔ سره ولټوهٔ د چا د پاره چې به دې عمل کولو۔ [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ رښتوني زړهٔ سره غور وکړئ! سو چ وکړئ، کار هُم یو دے، روژه، حج، زکوٰة، نیک اعمال، د دې پهٔ ذریعه مونږه جنّت ته هم تللے شو خو پهٔ ریا کولو، بَل ته پهٔ ښودلو که د دوزخ حقدار جوړ شو، د قیامت پهٔ ورځ باندې مونږه د بدکاره، دوکه بازه، کافِر او نقصان پورته کوونکي پهٔ نوم راووبللے شو نو دا څومره د تاوان سودا ده؟

## د ریا کوونکي عبرتناک مثال

پهٔ 3 سیپارهٔ، سُورهٔ بَقَرَه، آیت: 266 کښې ارشاد دے:

اَیَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِیْلٍ وَّ اَعْنَابٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِیْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَ اَصَابَهُ الْكِبَرُ وَ لَهٗ ذُرِّیَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖۚ فَاَصَابَهَاۤ اِعْصَارٌ فِیْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ یُبَیِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰیٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ۠ ﴿۲۶۶﴾ (پارہ:3، سورۂ البقرہ:266)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** آیا پهٔ تاسو کښې به څوک دا خوښوي چې هغهٔ سره د کجورو او انګورو یو باغ وي چې د هغې نه لاندې نهرونه بهیږي، د هغهٔ د پاره پهٔ هغې کښې هر قِسمه میوې وي او هغهٔ بوډا والي ته ورسي او حال دا وي چې د هغهٔ کمزوري او بے وسه بچي وي بیا پهٔ هغې باندې یوه بُوړکۍ [د هوا یو غونډارے] راشي چې پهٔ هغې کښې وور وي نو ټول باغ وسوزي۔ اللّٰه تاسو ته هُم دغسې خپل آیتونه واضحه بیانوي چې تاسو غور او فِکر وکړئ۔

---

1 ...مسندِ فردوس، جلد:4، صفحه:203، حدیث:6619 ملتقطًا۔

دا يو مثال دے [1] پۀ مونږ کښې دې هر يو ګس دا مثال مخې ته کيږدي او لږې سترګې دې پټې کړي او د خپل ځان پۀ باره کښې دې سوچ وکړي، مثلاً چې مونږه سوچ وکړو چې مونږه بوډاګان شوي يو، اوس زمونږ پۀ مَټو کښې د مځکښې پۀ شان طاقت نۀ دے پاتې، اوس د ډير محنت والا کار نشو کولے، پۀ دې حالت کښې واړه واړه ماشومان هم دي، هغوئي ګټه نشي کولے، محنت مزدوري نشي کولے، د هُغه ماشومانو ګټه وَټه صرف زمونږ پۀ لاس وي، زمونږه يو دُکان دے، د هغې نه امدن راځي، ټولې خرچې د هغې نه پوره کيږي، د ګټې بله څۀ ذريعه نشته، سيل مين (***Sale Man***) راځي او مال راکوي، مونږه پۀ ارام ناست يو او مال خرڅوو، د ژوند نظام روان دے، ناڅاپه يوه شپه پۀ هُغه دُکان کښې وور ولګي، ټول سامان وسوزي اِيره شي، آه! د ژوند هم يوه اَسره وه، هغه هم پاتې نۀ شوه۔

اوس به پۀ دې حالت کښې مونږ ته څنګه خفګان رارسي؟ څومره سخت تکليف به وي؟ هر وخت به د وړو وړو ماشومانو خيال ذِهن ته راځي، هر وخت به تکليف وي، پۀ سينه کښې به د غمونو سمندر پۀ موجونو وي، اوښکې به بهيږي، څومره غټ غم به وي؟ بيا دا سوچ لږ د اخرت طرف ته واړوئ! مونږه پۀ دُنيا کښې ډير کلونه تير کړل، ټول عمر مو نـمونځونه وکړه، روژې مو ونيولې، صدقه او خيرات مو وکړو، اشراق او څاخت او اوابين به مو هم پۀ پابندئ سره کول، تهجد مو هم چرته نۀ وو پريښودې، نفلي حجونه مو هم وکړه، عمرې مو هم وکړې، پۀ نيکو پسې مو نيکئ وکړې، ځان راته ډير نيک ښکاريدو، اعمال نامه مو د نيکو نه ډکه ګڼله، ناڅاپه د مرګ فرښته راغله، رُوح يـې قبض کړو، غوغا انګوله شوه، څومره نيک انسان وو، د دُنيا نه لاړو، هر يو ګس غمژن دے، چغې سوري دي، اخر مونږ ته کفن واغوستے شو، جنازه مو وکړے شوه، آه! بيا مونږ تيارۀ قبر ته کوز کړے شو او يواځې يـې پريښودو او خلق غمژن، پۀ تعريفونو کولو، زمونږه پۀ نيکو

---

1...تفسیر نعیمی، پارہ:3، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:266، جلد:3، صفحہ:108 بتغیر قلیل۔

باندې په واه واه کولو کورونو ته لاړل، بیا مونږ یو او زمونږه اعمال دي- بیا په دې تنهایۍ کښې، د وحشت په حالت کښې، د قبر په تیارهٔ کښې پته ولګي چې زمونږه ټولې نیکۍ خو د ریا په وجه باندې بربادې شوې--!! آه! هغه اوږده اوږده نـمونځونه، تهجد، اوابین، اشراق، ښاخت، هغه د ګرمۍ روژې، د ټولې ورځې لوږه او تنده، په لکونو روپو چې مو کوم حجونه کړي وو، عمرې مو کړې وې، د خپل محنت کومه ګټه چې مو په خلقو تقسیم کړې وه، د جومات په جوړولو کښې مو برخه اخستې وه، په دیني مدرسه باندې مو لګولې وې، ټول ژوند مو په محنت کولو، په خوارۍ کولو، یوه یوه نیکۍ جمع کړې وه، یقین مو وو چې دا نیکۍ به مو په قبر کښې پکار راشي، د قبر د عذاب نه به مو بچ کړي، تَکه توره تیارهٔ شپه به راته رڼا کړي خو افسوس! ډیر زیات افسوس--!! اوس چې قبر ته راورسیدو نو معلومه شوه چې د ریا ښکار شو او ټول محنت مو برباد کړو، اوس مو په اعمال نامه کښې هیڅ نیکي نشته، صرف رِیا پکښې ده، آه! ډیر آه! اللّٰه مو دې بچ کړي--!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! که داسې وشو نو د قبر په هغه تنهایۍ کښې، په هغه وحشت کښې به په مونږ باندې څهٔ تیریږي، څومره غم به مو په سر امبار وي، څومره ارماني به یو--!! که هغه وخت خلق د زمکې د پاځه زمونږه تعریفونه هم کوي نو څهٔ فائده؟ مونږ خو به د قبر په تنهایۍ کښې د غم او شرم ښکار یو، ارمان به کوو خو افسوس!

اب کیا ہوت، جب چڑیاں چُگ گئیں کھیت

کچھ مرے بچنے کی صُورت کیجئے | اب تو جو ہونا تھا مولا ہو گیا (1)

## (3): دُنیا له په اخرت باندې ترجیح مهٔ ورکوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دُنیا له په اخرت باندې ترجیح ورکول، د دُنیا د بهترۍ، د

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:35۔

دُنیا د مال او دولت، د عیش او عشرت او د دُنیا د فائدې د پاره د اخرت نقصان برداشت کول دا هم د تاوان سودا ده- پۀ 25 سیپاره، سورۀ شُوریٰ، آیت: 20 کښې اللّٰه پاک اِرشاد فرمائي:

مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الْاٰخِرَةِ نَزِدْ لَهٗ فِيْ حَرْثِهٖ ۚ وَ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا وَ مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ نَّصِيْبٍ ﴿۲۰﴾ (پارہ:25، سورۃ الشوریٰ:20)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: څوک چې د اخرت فصل غواړي نو مونږه د هغۀ د پاره د هغۀ پۀ فصل کښې اضافه کوو، او څوک چې د دُنیا فصل غواړي نو مونږه هغۀ ته د دې نه څۀ ورکوو او پۀ اخرت کښې د هغۀ هیڅ حصه نشته-

صحابئ رسول، سلطانُ المُفَسِّرِین حضرت عبد اللّٰه بن عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما د دې آیت پۀ تفسیر کښې فرمائي: کوم بنده چې دُنیا له پۀ اخرت باندې ترجیح ورکړي (مثلاً د دُنیا د مستقبل فِکر خو کوي خو پۀ اخرت کښې د کامیابۍ فِکر نۀ کوي) د هغۀ د پاره پۀ اخرت کښې هیڅ حصه نشته، آؤ! د هغۀ د پاره دوزخ دے- ورسره ورسره دا وبال هم چې (د دُنیا د مستقبل د پاره به) د هغۀ د فِکرونو هیڅ نتیجه نۀ راووځي، هغۀ له به پۀ دُنیا کښې صرف هُغه څۀ ورکولے کیږي، کوم چې د مخکښې نه لیکلے شوي وي- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! که دُنیا میلاؤ شي او که میلاؤ نۀ شي نو خیر دے، د اخرت نقصان هیڅ کله نه دي کیدل پکار، خُدائے دې نۀ کړي که پۀ دُنیا کښې مونږه ډیر څۀ وګټل، ډیر مالداره شو، منصب، شهرت، عزت، دولت هر څۀ میلاؤ شو خو د اخرت کامیابي مو د لاس نه ووتله نو ډیر نقصان به وشي، ځکه همیشه اخرت له پۀ دُنیا باندې د ترجیح ورکولو عادت جوړ کړئ! ✿ که پۀ 10 منټه دُکان بندولو د یو څو سوو یا یو څو زرو روپو نقصان کیږي نو هیڅ خبره نۀ ده خو نـمونځ نۀ دې پریښودل پکار ✿ که د دروغو وئیلو نه بغیر ګزاره نۀ کیږي نو نۀ دې کیږي، پۀ دروغو وئیلو هیڅ کله هم خپل اخرت

1…تفسیر درّ منثور، پارہ:25، سورۂ شوریٰ، زیرِ آیت: 20، جلد:7، صفحہ:343۔

خرابول نهٔ دي پکار ❁ که د سُود نه بغير نشو مالداره کيدے نو نهٔ دې کيږو، پهٔ سود اخستو خپل اخرت نهٔ دي بربادول پکار ❁ که د دوکې ورکولو نه بغير، د ټګئ کولو نه بغير ګټه کمه کيږي نو کيږي دې ❁ که د رشوت اخستو نه بغير کور نهٔ چليږي نو نهٔ دې چليږي، که وچه ډوډئ خوړل وي نو اوئې خورئ خو خپل اخرت هيڅ کله هم مهٔ بربادوئ۔

## د اخرت غوښتونکي جوړ شئ---!!

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ شير خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ فرمائي: خلقو! اخرت راروان دے، دُنيا روانه ده۔ پهٔ دې کښې د هر يو غوښتونکي شته - تاسو د اخرت غوښتونکي جوړ شئ! د دُنيا غوښتونکي مهٔ جوړيږئ--!! بے شکه نن د عمل ورځ ده، نن حِساب نشته خو سبا به د حِساب ورځ وي، هلته عمل نشته۔ (1)

| | |
|---|---|
| حُبِّ دُنیا سے تُو بچا یارَبّ! | عاشقِ مصطفےٰ بنا یارَبّ! |
| کاش! لب پر مرے رہے جاری | ذِکر آٹھوں پہر ترا یارَبّ! |
| آہ! طغیانیاں گناہوں کی | پار نَیّا مری لگا یارَبّ! |
| نفس و شیطان ہو گئے غالِب | ان کے چُنگل سے تُو چُھڑا یارَبّ! (2) |

## (4): د همزاد خبرې مهٔ اورئ!

دلته عام طور وئيلے کيږي چې اِنسان دُنيا ته يواځې راغلے دے او هُم يواځې به ځي۔ دا خبره پهٔ خپل ځائے باندې صحيح ده، البته مونږه دُنيا ته يواځې نهٔ يو راغلي، چې کله ماشوم پيدا شي، هَغه وخت د ابليس کره هم ماشوم پيدا شي، کوم ته چې همزاد وئيلے شي- دغه شان يوه فرښته هم پيدا شي، کومې ته مُلۡهِم وئيلے شي۔

---

1...بخاری، کتاب: الرقاق، باب: فی الامل و طوله، صفحه: 1581۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه: 79 ملتقطاً۔

ھغه چې کوم همزاد یعنې زمونږ سره شیطان وي، هغۀ هر وخت مونږه پۀ ګناهونو کښې د اخته کولو کوشش کوي او چې کوم مُلْهِمْ فرښته ده هغۀ همیشه مونږه له د نیکۍ دعوت راکوي۔ (1)

بعضې وخت خلق وائي: زما دوه زړونه دي، یو زړۀ مې غواړي چې دا کار وکړم او بَل زړۀ مې غواړي چې ھغه کار وکړم، حالانکې زړۀ خو پۀ سینه کښې هم یو دے، د چا هم پۀ سینه کښې دوه زړونه نۀ وي، بیا داسې ولې کیږي؟ ❁ یو زړۀ غواړي چې نـمونځ وکړۀ او بَل زړۀ غواړي چې وروستو به یـې وکړې ❁ یو زړۀ وائي چې د الله پاک پۀ لاره کښې مال ورکړۀ او بَل زړۀ غواړي چې مۀ یـې ورکوۀ ❁ یو زړۀ غواړي چې روژه ونیسۀ او بَل زړۀ غواړي چې مۀ یـې نیسۀ ❁ یو زړۀ وائي چې تِلاوت وکړۀ او بَل زړۀ وائي چې مۀ یـې کوۀ ❁ یو زړۀ غواړي چې درودِ پاک ولوله او بَل زړۀ غواړي چې موبائل راواخله، پۀ سوشل میډیا باندې څۀ وخت تیر کړه ❁ یو زړۀ وائي چې پۀ قافله کښې سفر وکړه او بَل زړۀ وائي چې مۀ یـې کوه ❁ یو زړۀ غواړي چې پۀ هفته واره اجتماع کښې شرکت وکړه او بَل زړۀ غواړي چې مۀ یـې کوه۔ زړۀ خو پۀ سینه کښې هم یو دے، بیا دا څۀ معامله ده؟ دا پۀ اَصل کښې د همزاد او د مُلْهِمْ معامله ده۔ همزاد شیطان دے۔ کوم چې ټول عمر د نیکو نه منع کول کوي، د ګناهونو رغبت ورکوي او بَل مُلْهِمْ فرښته ده کومه چې مونږ ته همیشه د نیکۍ دعوت راکوي۔

بیا دا پۀ مونږ باندې ده چې مونږه د چا خبره منو۔ که مونږه د مُلْهِمْ خبره منو، د نیکۍ پۀ لاره باندې ځو نو پۀ هدایت باندې به یو او د جنَّت حقدار به جوړیږو، که د همزاد خبره منو نو د هدایت د لارې نه به بے لارې شو، پۀ ګناهونو کښې به اخته شو او د دوزخ طرف ته به لاړ شو۔ الله پاک مونږ ته د منافقانو طریقه بیان کړه چې

---

1 ...مرقاة المفاتیح، کتاب الایمان، باب الوسوسة، الفصل الاول، جلد:1، صفحه:228، تحت الحدیث:67 ملتقطًا۔

اُولٰٓىِٕكَ الَّذِیْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى ۪ (پاره: 1، سورۀالبقرة: 16)

د منافقانو دا صفت دے چې هغوئي هدایت پریږدي، ګمراهي اِختیاروي خو د مؤمِن بنده دا شان دے چې هغهٔ ګمراهي پریږدي او هدایت اِختیاروي۔

ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د تاوان سودا بالکل نهٔ کوو، همیشه د هدایت پهٔ لاره باندې اوسو، کله هم د هدایت لاره نهٔ پریږدو او د ګمراهۍ طرف ته نهٔ ځو۔ الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ماهنامه فیضانِ مدینه ایپلي کیشن تعارف

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم دعوتِ اسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ یو ډیر ښکلے موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د دې نوم دے: ماهنامه فیضانِ مدینه (***Mahnama Faizan e Madina***) پهٔ دې ایپلي کیشن کښې تر اوسه پورې جاري شوې ټولې ماهنامې د PDF شکل کښې موجودې دي، د دې نه علاوه ❀ د ټولو ماهنامو مضامین (آرټیکلز) پهٔ لیکلي شکل کښې موجود دي، کوم چې د کاپي کولو سره شیئر کیدے هم شي ❀ د اسانۍ د پاره سرچ آپشن (***Search option***) هم ورکړے شوے دے، د کوم پهٔ مرسته باندې چې څهٔ مضمون وغیره هم لټولے کیدے شي۔ تاسو هم دا ایپلي کیشن پهٔ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

### راځئ چې د بیان پهٔ اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د نا بالغه ماشوم مِتیازې هم پاکې نهٔ دي-

**وضاحت:** ماشوم که د یوې ورځې هم وي نو د هغهٔ مِتیازې پاکې نهٔ دي ځکه که دا پهٔ بدن باندې ولګي نو بدن به ناپاک شي، بیا چې تر څو پورې مِتیازې وه نهٔ وینځلے شي نو وجود به پاک نهٔ وي، اګر که مِتیازې وَچې شي او د هغې بد بوئي ختم شي- پهٔ بهارِ شریعت کښې دي: د پیۍ څښونکي هلک یا جینۍ مِتیازې پلیتې دي- دا چې پهٔ اکثرو خلقو کښې کومه خبره مشهوره ده چې د پئیو څښونکي ماشوم مِتیازې پاکې دي دا غلطه خبره ده- (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ دې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا مُذِلُّ، یَا مُعِزُّ

څوک چې 75 کرته **یَا مُذِلُّ، یَا مُعِزُّ** ولولي او سجده وکړي او ووائي یَا الله! د فلانکي ظالِم د شَر نه ما محفوظ کړې، نو الله پاک به هغهٔ له اَمان ورکړي او پهٔ خپل حفاظت کښې به یې وساتي- (2) اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

---

1... بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:390، حصه:2۔

2... مدنی پنج سوره، صفحه:250۔